هفته واره رساله

# د پرنجي [انتروشي] آداب

(د امیرِ اهلِ سُنَّت دامت برکاتہم العالیہ بیان)

(پښتو)

- پرنجې او سائنسي تحقیق
- د کافر د پرنجي جواب
- د غابنونو د بیمارئ نه حفاظت
- په نمانځه کښې د پرنجي جواب ورکول څنګه دي؟


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

**محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي** دامت برکاتہم العالیہ

نَحۡمَدُہٗ وَنُصَلِّیۡ وَنُسَلِّمُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

پرنجي [انتروشي] ته په عربۍ کښې "عَطَس" وئيلے شي- دا يو فطرتي عمل دے کوم چې انسان خو انسان دے چې څناور ته هم راپيښيږي- په ډيرو حديثونو مبارکو کښې د پرنجي ذِکر دے هم دغه وجه چې زمونږ په شريعت مبارک کښې د پرنجي متعلق د اهمو شرعي مسائلو، آدابو او د احکامو وغيره بيان دے، په دې کښې ډير داسې احکام هم دي په کومو باندې چې عمل نهٔ کوونکے ګس "ګنهګاريدے" شي، ځکه د دې موضوع په باره کښې پوهه حاصلول ضروري دي- شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت باني دعوتِ اِسلامي، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په 23 جُمادَي الأُولىٰ کال 1441 هجرى په مَدَني چينل باندې لائيو د "**پرنجي**" په موضوع باندې بيان وفرمائيلو-

اَلۡحَمۡدُلِله! د دعوتِ اِسلامي مجلس الـمدينة الـعلميه (اِسلامک ريسرچ سينټر) شعبه هفته وار رساله د اميرِ اهلِسُنَّت دا بيان د ضروري ترميمونو او د موضوع په مناسبت د څهٔ اضافې سره د رسالې په شکل کښې پيش کوي- په دې رساله کښې به تاسو ولولئ چې په پرنجي راتلو باندې "اَلۡحَمۡدُلِله!" ولې وئيل پکار دي؟ د پرنجي جواب څهٔ دے؟ که په نـمونځ کښې پرنجے راشي نو څهٔ به کوي؟ آيا پرنجي زمونږ د خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضري کړې ده؟ د ضروري معلوماتو سره سره د لوستونکو د خوند زياتولو د پاره په دې رساله کښې ځينې واقعې هم شاملې کړے شوې دي- د الله پاک د رضا موندلو او د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره پخپله هم دا رساله ولولئ او د نيکۍ د دعوت عام کولو په نيت يـې نورو ته هم د تحفې په توګه ورواندې کړئ-

طالبِ غمِ مدينه وبقيع و بے حساب مغفرت
ابو محمد طاهر عطاري مدني عُفِيَ عنه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د پرنجي [انتروشي] آداب

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د پرنجي [انتروشي] آداب " ولولي یا واوري هغهٔ ته پهٔ خپله رضا باندې د راضي کیدو توفیق عطا کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ ما باندې پهٔ ورځ کښې زر [1000] کرته دُرُود شریف لولي هغهٔ به تر هٰغه وخته پورې نهٔ مرِ کیږي تر څو پورې چې پهٔ جَنَّت کښې خپل مقام اونه ویني- (الترغیب والترہیب، 2/328، حدیث: 22)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه وړومبے پرنجے چا له ورغلےوو؟

الله پاک چې کله د حضرت آدم صفيُّ الله عَلَیْہِ السَّلَام د پیدا کولو اراده وفرمائیله نو مَلَک الموت حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ته یې حکم وکړو چې د زمکې نه یو موټے خاوره راوړه- د الله پاک پهٔ حکم حضرت مَلَک الموت عَلَیْہِ السَّلَام چې کله د زمکې نه د خاورې موټے راډک کړو نو د زمکې بره حصه د پوستکي پهٔ شان لرې شوه او د هغوئي موټي ته راغله- پهٔ کومه کښې چې د 60 رنګونو او مختلفو کیفیتونو خاورې شاملې شوې، د هٰغه خاورې پهٔ مختلفو اوبو د

اخکلو حکم وکړے شو، بیا د هغې خاورې نه د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام بدن جوړ کړے شو او د جنَّت په دروازه کښې کیښودے شو د هغې په لیدو چې به فرښتے حیرانیدلې ځکه چې فرښتو د داسې شکل او صورت والا مخلوق چرته نۀ وو لیدلے- اللّٰه پاک بیا په هغه وجود کښې د رُوح داخلولو حکم وکړو نو رُوح چې کله داخل شو او د آدم عَلَیْهِ السَّلَام پوزې مبارکې ته ورسیدو نو حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام له پرنجے ورغلو، چې کله د ژبې پورې ورسیدو نو اللّٰه پاک وفرمائیل چې اَلْحَمْدُلِلّٰه ووایۀ! آدم عَلَیْهِ السَّلَام چې ''اَلْحَمْدُلِلّٰه'' ووئیله نو اللّٰه پاک وفرمائیل ''یَرْحَمُكَ اللهُ یَااَبَامُحَمَّد! یعنې اللّٰه دې په تا باندې رحمت وفرمائي، اے ابو محمده (دا د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام کُنیت وو) ما تۀ د خپل حمد یعنې د تعریف بیانولو د پاره پیدا کړے یې، بیا رُوح په ورو ورو وجود ته ورسیدو او هغوئي راپاڅیدلو- (تفسیرِ خازن، پ 1، البقرة، تحت الآیة: 30، 43/1 ملخصاً و بتغیر - تفسیر روح البیان، پ 1، البقرة، تحت الآیة: 30، 100/1 ملخصاً و بتغر)

د اللّٰه رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## پرنجے او سائنسي تحقیق

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پرنجے د انسان د وجود د پاره ډیر اهمیت لري- اللّٰه پاک د پوزې، خُلې، حَلق نه واخله تر پړپوس پورې په ټولو هوائي لارو کښې نرمې پردې (یعنې د انسان او د ځناور د غوښې نرۍ نرۍ جالۍ د کومو نه چې بَل طرف په نظر راځي) پیدا کړې دي، د سائنسي تحقیق مطابق چې مونږ له کله پرنجے راځي نو په پوزه کښې موجود بیکټیریا او وائرس بهر ووځي او زمونږه وجود د جراثیمو نه پاکیږي- زمونږه رَبِّ کریم زمونږ د پاره خومره ښکلے نظام جوړ کړے دے- سُبْحٰنَ اللهِ الْعَظِیْمِ وَبِحَمْدِہٖ یعنې هُم د عظمت والا اللّٰه پاک د پاره پاکي او تعریف دے-

ہر شے سے ہیں عیاں مِرے صانع کی صنعتیں     عالَم سب آئنوں میں ہے آئینہ ساز کا
(ذوقِ نعت، ص 17)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## "پهٔ سُنَّت کښې عظمت دے" د 14 حرفونو پهٔ نسبت د پرنجي پهٔ باره کښې 14 حديثونه مبارک

## ﴿1﴾ "پرنجے" د الله پاک خوښ دے

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک پرنجے خوښوي او اررمے نهٔ خوښوي، نو چې کله پهٔ تاسو کښې ثوک پرنجے وکړي او د الله پاک حمد [بيان] کړي نو پهٔ هر اوريدونکي مسلمان باندې حق دے چې د هٔغه پرنجي جواب ورکړي يعني " يَرْحَمُكَ الله" ووائي- (بخاری، 163/4، حدیث: 6226)

## پهٔ پرنجي باندې "اَلْحَمْدُلِلّٰه ولې وئيلے کيږي؟

شارحِ بُخاري، حضرت علّامه شريف الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: پرنجے د صحت د پاره پهٔ ستَّه ضروريه کښې يو دے ("ستَّه ضروريه " هٔغه شپږ ضروري خيزونه دي د کومو چې انسان ته تر مرګه پورې ضرورت وي- ﴿1﴾ هوا ﴿2﴾ خوراک څښاک ﴿3﴾ د بدن حرکت او سکون ﴿4﴾ نفساني حرکت او سکون ﴿5﴾ اوده کيدل راپاڅيدل ﴿6﴾ پهٔ وجود کښې چې دننه څهٔ دي د هغې تر مناسبه مودې پورې پهٔ وجود کښې ايساريدل او بيا د وجود نه خارج کيدل-) د پرنجي سره خرابې مادې بهر ووځي څکه پرنجي کوونکي ته د " اَلْحَمْدُلِلّٰه" وئيلو حکم شوے دے- (نزہۃ القاری، 597/5)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې حديثِ پاک کښې د اررږمي ذِکر وشو- بعضې وخت خلق د اررږمي پهٔ وخت خُلهٔ کولاؤ کړي او عجبيه قِسمه اوازونه رااوباسي، هغوئي له داسې نهٔ دي کول پکار- پهٔ حديثِ پاک کښې دي:اررږمے کوونکے چې کله ''هاء'' کوي نو پهٔ دې باندې شيطان خاندي- (بخاری، 163/4، حديث:6226مفهوماً) يعنې چې کله خوک پهٔ اررږمي کښې خُله کولاؤ کړي او '' هاه'' وائي نو شيطان ښه پهٔ کړس کړس خاندي چې ما دا پاګل کړو، خپل اثر مې پهٔ دهٔ وکړو- (مرآۃالمناجیح، 392/6)

## د پرنجي فائدې

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د پرنجي سره دماغ صفا کيږي، د پرنجي سره د سر بوج کميږي، طبيعت ښه کيږي چې ورسره پهٔ عبادتونو باندې زيات طاقت حاصليږي- طبيبان (ډاکټران) وائي چې که زُکام پهٔ خيريت سره راشي او تير شي نو د ډيرو بيمارو دَفعِيَّه (يعنې علاج) دے او اررږمے د سستئ علامت دے، پهٔ وجود کښې سستي او بے برکتي راځي، پرنجے د رَبّ خوښ دے او اررږمے د شيطان خوښ دے، ځکه پهٔ انبيائے کرامو (عَلَيهِمُ السَّلام) باندې چرې هم اررږمي نهٔ راځي- (مرآۃالمناجیح، 391/6)

## ﴿3،2﴾ چې کله پهٔ تاسو کښې چا له پرنجے ورشي

د الله پاک خوږ اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله پهٔ تاسو کښې خوک پرنجے وکړي نو ودي وائي : '' اَلۡحَمۡدُلِلّٰه'' او د هغهٔ ورور يا ملګرے دې وائي: يَرحَمُکَ الله، بيا چې کله هغهٔ '' يَرحَمُكَ الله'' ووائي نو پرنجے کوونکے دې هغهٔ ته ووائي: يَهۡدِيۡكُمُ اللّٰهُ وَيُصۡلِحُ بَالَكُمۡ يعنې الله پاک دې تا ته هدايت وکړي او ستا معاملې

دې صحيح کړي- (بخارى، 162/4، حديث:6224) پهٔ يو روايت کښې دي چې هغهٔ دې ووائي: يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ يعنې الله پاک دې مونږه او تاسو اوبخښي-
(ترمذى، 340/4، حديث:2749)

مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پرنجے د الله پاک نعمت دےلهذا پهٔ دې باندې د الله حمد (يعنې تعريف) کول پکار دي- ولې چې پهٔ دې حمد کولو سره هغهٔ د الله پاک د نعمت قدر وکړو لهذا اوريدونکي هغهٔ ته دُعا وکړه: "يَرحَمُکَ الله" دې دُعا والا پهٔ هغهٔ (يعنې پرنجي کوونکي) باندې اِحسان وکړو لهذاد اِحسان بدله پهٔ اِحسان باندې د ورکولو سره دې بيا هغهٔ ته دُعا وکړي (يعنې بيا دې پرنجے کوونکے د "يَرحَمُكَ الله" په اوريدو سره هغهٔ ته دا دُعا وکړي): يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُم غرض دا چې د دې ذِکرونو يو بل ته پهٔ وئيلو کښې عجيبه حکمت دے-
(مرأة المناجيح، 393/6)

## ﴿4﴾ پرنجي کوونکي که چرې حمد اونهٔ کړو نو----

د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مخکښې دوو کسانو پرنجے وکړو- هغوئي يو له جواب ورکړو، بَل له يې ورنکړو- (چا له چې يې جواب ورنکړو) هغهٔ عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو دهٔ له جواب ورکړو او ما له مو رانکړو- حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: دهٔ د الله پاک حمد وکړو او تا ونکړو-
(بخارى، 163/4، حديث:6225)

## ﴿5﴾ د فرښتې د طرف نه جواب

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوک چې پهٔ پرنجي باندې "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" وائي، فرښته وائي: رَبِّ الْعٰلَمِين (يعنې دغه کلمه پوره کوي) او که پرنجے

كوونكے ” اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ العَالَمِين“ وائي نو فرښته وائي: يَرحَمُكَ الله يعني الله پاک دې پهٔ تا باندې رحم وکړي- (کتاب الدعاء للطبرانی، ص 552، حديث:1985)

## پهٔ پرنجي باندې د الله پاک د حمد افضل الفاظ

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د پرنجي کولو پهٔ وخت) ډېر خلق صرف اَلْحَمْدُلِلّٰه وائي، پوره کلمه وئيل پکار دي: ” اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ العالمِين“- (نور فرمائي:) خومره لوئي دولت دے چې د معصومې فرښتے د خُلې نه د رحمت دُعا (ميلاؤ شي)- يعنې چې کله پرنجے کوونکے ” اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِين “ وائي نو فرښته به هغهٔ ته دُعا وکړي: ” يَرحَمُكَ الله“ الله پاک دې پهٔ تا باندې رحمت وفرمائي لهذا اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِين وئيل پکار دي- که صرف ” اَلْحَمْدُلِلّٰه“ يـې ووئيله نو هم به سُنَّت ادا شي خو کوم سعادت چې د فرښتو نه د دُعا ميلاؤيدو وو هغه پاتې شو- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ” اَلقولُ البَدِيع“ پهٔ حوالې سره فرمائي: پهٔ پرنجي باندې افضل او اکمل د حَمد صِيغَه دا ده چې: اَلحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ عَلٰى كُلِّ حَالٍ مَّا كَانَ مِنْ حَالٍ وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّ اَهْلِ بَيْتِهٖ-

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 319، 320 ملخصاً)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده، حضرت مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

جو ہے غافل ترے ذِکر سے ذُوالجلال ‌ ‌ ‌ اس کی غفلت ہے اس پر وَبال و نکال
قَعرِ غفلت سے ہم کو خدایا نکال ‌ ‌ ‌ ہم ہوں ذاکر ترے اور مذکور تُو

اللہ اللہ اللہ اللہ

(سامانِ بخشش، ص 21)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

## آيا د پرنجي جواب ورکول ضروري دي؟

نن سبا ډيرو لوئي لوئي خلقو له "يَرحَمُكِ الله" وئيل نۀ ورځي بلکې پۀ پرنجي کولو او د پرنجي پۀ جواب اوريدو باندې څۀ وئيل دې د دې ورته هم پته نۀ وي- ياد ساتئ چې پۀ پرنجي کولو باندې "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" وئيل سُنَّتِ مُؤَکَّده دي-

(حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح، ص 7)

## اهمه مسئله

ياد ساتئ چې د سُنَّتِ مُؤَکَّده پۀ باره کښې مسئله دا ده چې که يو څو ځل پريښودلے شوه نو بد وکړے شو او که د نۀ کولو عادت جوړ کړے شو نو ګنهګاريږي به- **د عادت معيار درې کرته پۀ عمل پريښودو باندې دے- ځکه پۀ داسې ګس باندې د دې ګناه نه توبه واجب ده-**

## د يو دِرهَم پۀ بدله يې جنَّت واخستو (واقعه)

د حديثِ پاک مشهور کتاب "سُنَنِ اَبُو داؤد شريف" مُصَنّف حضرت امام ابو داؤد سُليمان بِن اَشعَث سِجِستَاني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه يو ځل پۀ کشتۍ کښې تشريف وړلو چې د درياب پۀ غاړه باندې يې يو ګس پۀ پرنجي کولونه پس پۀ "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" واوريدو، اِمام ابو داؤد رَحمَةُ اللهِ عَلَيه پۀ يو دِرهم باندې يوه (بله) وړه شان کشتۍ پۀ کرايه باندې وکړه او د خپلې هُغه کشتۍ نه کوز شو او پۀ بَله کشتۍ کښې کيناستو او واپس د غاړې طرف ته وګرځيدو او د هُغه ګس خوا له چې لاړو نو د پرنجي جواب "يَرحَمُكَ الله" يې ووئيلو او واپس راغلو- کله چې د هغوئي نه د دې د وجهې پوښتنه وکړے شوه نو هغوئي وفرمائيل: پۀ پرنجي کولو هُغه ګس حمد بيان کړے وو او کيدے شي چې هُغه ګس د الله پاک پۀ بارګاه کښې مقبول وي او د هغۀ دُعا قبليږي- چې کله کشتۍ والا اوده شول نو هغوئي پۀ خوب کښې د چا نه

دا خبره واوريدله چې: ” اے کشتی والؤ! ابو داؤد د يو درهم پهٔ بدله د الله پاک نه جنَّت واخستو“۔ (فتح الباری، 514/11، تحت الحديث: 6225)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

وہ تو نہایت سَستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا    ہم مُفلِس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے

(حدائقِ بخشش، ص 186)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿6﴾ د کافر د پرنجي جواب

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې يو يهودي پرنجے وکړو او طمع يــې لرله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ دې باندې ” يَرْحَمُكَ الله“ ووائي، خو رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ” يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُم“ وفرمائيل۔

(ترمذی، 339/4، حديث: 2748)

## ﴿7﴾ د پرنجي د جواب نهٔ ورکولو نقصان

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت مولیٰ عليُّ المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيانوي: ما د الله پاک د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نهٔ دا اِرشاد واوريدو چې: پهٔ تاسو کښې که څوک د خپل ورور د پرنجي جواب ورنکړو کله چې هغهٔ پرنجے وکړو (او اَلْحَمْدُ لِلّٰه يــې ووئيله) نو د قيامت پهٔ ورځ باندې به هٰغه پرنجي کولو والا د هغې غوښتنه کوي او (د پرنجي د جواب نهٔ ورکولو پهٔ وجه به) د هغهٔ نه بدله اخستے کيږي۔ (البدور السافرة فی امور الآخرة، ص 382)

## د پرنجي پهٔ جواب کښې د دارُ الْاِفتاء اهلِسنّت فتویٰ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ښهٔ پهٔ توجه سره واورئ چې د پرنجي د جواب پهٔ باره کښې مسئله دا ده چې يو ځل فوراً جواب ورکول واجب دي او پهٔ دې کښې بغير د څهٔ شرعي عذر نه د لم ليټ نه کار اخستل ګناه ده که اَصلاً (يعني بالکل) يې جواب ورنکړو نو وروستو جواب ورکول او بغير د څهٔ شرعي وجهې نه د لم ليټ پهٔ وجه توبه کول، دواړه ضروري دي۔

حضرت علّامه امام اِبنِ عابِدين شامي دِمشقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: د سلام او پرنجي جواب ورکول فوراً واجب دے، د دې ظاهر دا دے چې که بغير د څهٔ عُذر نه پهٔ جواب کښې د لم ليټ نه کار واخستے شو نو مکروهِ تَحريمي شو او ګناه به صرف وروستو پهٔ جواب ورکولو نهٔ ختميږي بلکې توبه کول به هم وي۔
(در مختار مع رد المحتار، 683/9)

لهٰذا اِحتِياطاً توبه کړئ چې يا الله پاکه! تر ننه پورې چې د پرنجي پهٔ جواب ورکولو کښې زمونږ نه قصداً عمداً يا پهٔ هيره د تاخير نه کوم کار واخستے شو يا بيا مونږه هډو جواب ورنکړو، د دې نه مونږه توبه کوو، تهٔ مونږه معاف کړې۔
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿8﴾ پهٔ نـمونځ کښې پرنجے

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: پهٔ نـمونځ کښې پرنجے د شيطان د طرف نه دے۔ (ترمذی، 344/4، حديث: 2757 ملتقطاً) ياد ساتئ چې پهٔ نـمونځ کښې کله پرنجے وکړے شي نو شيطان پهٔ دې باندې خوشحاليږي چې ما د دهٔ پهٔ نـمونځ کښې خنډ [يعني رکاوټ] پيدا کړو ګنې نو دا منع نهٔ دے بلکې دا خو د خُدائے نعمت دے که د بيمارۍ پهٔ وجه نهٔ وي۔ (مراٰة المناجيح، 139/2 ملخصاً بتغير قليلٍ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## ﴿9﴾ پرله پسې درې پرنجي

د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمان بن عَفّان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ موجودګۍ کښې درې پرنجي وکړل- د الله پاک اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: اے عثمانه! آيا زهٔ تا له زيرے درنکړم؟ دا جبرائيل دے کوم چې ما ته د الله پاک د طرف نه خبر راکړے دے چې "کوم مؤمِن درې پرنجي پرله پسې وکړي نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې اِيمان ثابت کيږي (يعني پوخيږي)-" (نوادر الاصول، 471/4، حديث: 1066)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## ﴿10﴾ د خبرو کولو پهٔ وخت پرنجے

نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے چې زياته رښتوني خبره هٰغه ده چې هٰغه وخت پرنجے وکړے شي- (معجم اوسط، 302/2، حديث:3360)

حضرت سيدنا عمر بن خطَّاب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ارشاد فرمائي: د خبرو پهٔ وخت يو پرنجے زما د يو "عادل" (يعني رښتوني) ګواه نه زيات خوښ دے- (نوادر الاصول، 469/4، حديث: 1063) زما آقا اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: داسې څهٔ چې بيانولے کيږي چې د هغې صِدق و کِذب (يعني رښتيا او دروغ کيدل) معلوم نهٔ وي او هٰغه وخت چا له پرنجے ورشي نو دا د دې خبرې صِدق (يعني د رښتيا کيدو) دليل دے- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 319)

## ﴿11﴾ د دُعا پهٔ وخت پرنجے

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: د دُعا پهٔ وخت پرنجے کول رښتونے ګواه دے- (کنز العمال، جز:9، 68/5، حديث:25520) اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: د دُعا پهٔ وخت پرنجے کول د دُعا د قبليدو دليل دے-

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 319)

## ﴿12﴾ د بخښني زيرے

صحابي رسول حضرت اَبُو رافع رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د الله پاک خوږ اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جومات ته د تللو په اراده د خپل کور مبارک نه بهر تشريف راوړلو نو زهٔ هم د هغوئي سره ووم، حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس نيولے وو، چې مونږه بقيع شريف ته ورسيدو نو رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرنجے وکړو، نو آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس پريښودو، بيا داسې ودريدو لکه چې يو حيران شوے کَس ولاړ وي، ما عرض وکړو: يَا نبيَّ الله! زما مور پلار دې ستاسو نه قربان شي! تاسو څهٔ ووئيل په کومې چې زهٔ پوهه نهٔ شوم؟ نو حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: جبرئِلِ اَمين عَلَیْہِ السَّلَام زما خوا له راغلو او اوئې وئيل: چې کله تاسو له پرنجے درشي نو وايئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ لِکَرَمِہٖ وَالْحَمْدُ لِلّٰہِ لِعِزِّجَلَالِہٖ (يعني ټولې خوبيانې د الله د پاره دي لکه څنګه چې د هغهٔ فضل او کرم دے او ټول تعريفونه د الله پاک د پاره دي لکه څنګه چې د هغهٔ عزت او بُزرګي ده)- نو بے شکه الله پاک درې کرته فرمائي: زما بنده رښتيا ووئيل، زما بنده رښتيا ووئيل، زما بنده رښتيا ووئيل، دا وبخښلے شو- (عمل اليوم و الليلة، ص116، حديث:261)

يقيناً چې دا عمل د اُمت د تعليم د پاره دے ګني نو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان خو دا دے چې د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسيله به مونږه ګنهګاران بخښلے کيږو- اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿13﴾ د غاښ، غوږ او د خيټې د درد نه د حفاظت نُسخه

چې کله چا له پرنجے ورشي او هغهٔ " اَلْحَمْدُ لِلّٰہ" وائي د دې نه مخکښې اوريدونکي " اَلْحَمْدُ لِلّٰہ" ووئيله نو په حديث کښې راغلي دي چې داسې کَس

به د غابښونو، د غوږ او د بد هضمۍ په سبب د راتلونکي د خيټې د درد نه محفوظ وي- (المقاصد الحسنة، ص 420، حديث:1130)

## د غابښونو د بيمارو نه حفاظت

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې په پرنجي باندې ووائي: " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ عَلٰى كُلِّ حَال" او خپله ژبه په ټولو غابښونو باندې راکاږي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د غابښونو د بيمارو نه به محفوظ وي، مُجَرَّبه (يعني تجربه شوې خبره) ده- (مرأة المناجيح، 6/396)

## ﴿14﴾ د پرنجي په وخت به يې مخ مبارک پټولو

د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې چې به کله پرنجې حاضريدو يعني چې کله به هغوئي پرنجې کولو نو په خپل مبارک لاس يا کپړه باندې به يې مخ مبارک پټولو او د دې د پټولو په ذريعه به يې خپل اواز مبارک کمولو- (ترمذی، 4/343، حديث:2754)

## په پرنجي کښې اواز په زوره مۀ کوئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پرنجې ښۀ څيز دے او دا ټول بيان د اتفاقي پرنجي په نسبت سره دے- د زکام (نزلې) پرنجې څۀ څيز نۀ دے خو اواز کم ساتل په دې کښې هم تهذيب دے او په جومات کښې د پرنجي راتلو په شکل کښې د اواز کم ساتلو ډير تاکيد دے- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 322) بعضې خلق په داسې انداز کښې " آک چهي" کوي چې ښې اړخ والا هم ټوپ کړي او د ګڅ اړخ والا هم چې دا څۀ وشو؟ ياد ساتئ چې په پرنجي کښې اواز تيز ساتل بيوقوفي ده- (ردالمحتار، 9/685) لهذا په پرنجي کښې داسې قصداً عمداً په زوره اواز کول د ښه او مهذبه انسان علامت نۀ دے-

## پهٔ پرنجي بَد فالي نيول څنګ دي؟

حضرت علّامه مولانا مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ډېر خلق د پرنجي نه بَد فالي (يعنې د دې نه بد شګوني اخلي)، مثلاً د څهٔ کار د پاره روان وي او څوک پرنجے وکړي نو هغهٔ ګنړي چې اوس به دا کار نهٔ کيږي، دا جهالت دے ولې چې بد فالي څهٔ څيز نهٔ دے او داسې څيز ته بد فالي وئيل کوم ته چې پهٔ حديث کښې " شاهدِ عَدل" فرمائيلے شوي دي، سخته غلطي ده- (بهارِ شريعت، 478/3، حصه:16)

بدشگونی کا اثر نہیں ہوتا کبھی جو تقدیر میں ہوتا ہے، وہی ملتا ہے ہمیں

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پرنجي د جواب ورکولو 14 احکام

﴿1﴾ د پرنجي جواب يو ځل ورکول واجب دي که چرې پرنجے کوونکے " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه"ووائي، خو که پهٔ مجلس کښې بيا هُغه کس پرنجے وکړي او هغهٔ " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه"هم ووائي نو بيا جواب ورکول واجب نهٔ دي بلکې مستحب دي- (فتاوىٰ هنديه، 326/5۔ بهارِ شريعت، 3/ 476، حصه: 16)﴿2﴾ پرنجي کوونکي له پکار دي چې پهٔ زوره باندې حمد وائي چې څوک يې واوري او جواب ورکړي- ﴿3﴾ که يو کس د ډيرو خلقو پهٔ موجودګۍ کښې پرنجے وکړي او " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه" ووائي او پهٔ اوريدونکو کښې يو هم پهٔ جواب کښې "يَرۡحَمُكَ الله" ووائي نو د ټولو اوريدونکو د طرف نه به واجب ادا شي، د ټولو جواب ورکول واجب نهٔ دي- البته بهتره ده چې ټول حاضرين جواب ورکړي- (ردالمحتار، 684/9) ﴿4﴾ که د خطبې پهٔ وخت څوک پرنجے وکړي نو اوريدونکے دې د دې جواب نهٔ ورکوي- (فتاوىٰ قاضى خان، 377/2)

﴿5﴾پهٔ پرنجي کولو نـمونځ نهٔ ماتيږي-

## پهٔ نـمونځ کښې د پرنجي جواب ورکول څنګ دي؟

﴿6﴾ که چا پرنجے وکړو او د هغې پهٔ جواب کښې نـمونځ کوونکي "يَرۡحَمُكَ الله" ووئيل نو د هغهٔ نـمونځ مات شو او که ېخپله هغهٔ له پرنجے ورغلو او خپل ځان يې مخاطِب کړو او" يَرۡحَمُكَ الله"يـې ووئيل نو نـمونځ يـې مات نهٔ شو، که بَل نـمونځ کوونکي پرنجے وکړو او دهٔ " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه" ووئيل نو نـمونځ مات نهٔ شو او که د جواب پهٔ نيت يـې ووئيل نو مات شو- که پهٔ نـمونځ کښې چا پرنجے وکړو او بَل چا " يَرۡحَمُكَ الله" ووئيل او دهٔ (يعنې نـمونځ کوونکي) پهٔ جواب کښې ووئيل "آمين" نو نـمونځ مات شو- که پهٔ نـمونځ کښې پرنجے وکړئ نو چپ اوسئ او که" اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه"مو ووائيل نو بيا هم پهٔ نـمونځ کښې څهٔ باک نشته (ځکه چې پهٔ پرنجي کولو باندې حمد کول عُرفاً جواب نهٔ دے لهذا د نـمونځ ماتونکي عمل والا سبب اونهٔ مونده شو-) او که هغه وخت يـې حمد اونهٔ وئيل نو د نـمونځ نه چې فارغ شې نو دې ووائې - (بهار شريعت، 605/1، حصه:3بِتسهيلٍ) ﴿7﴾ (د نـمونځ پهٔ حالت کښې) پهٔ پرنجي، ټوخي، اررمي اډرقي [اټکي] کښې چې څومره حرفونه مجبوراً د خُلې نه ووځي،هغه معاف دي- (بهار شريعت، 608/1، حصه:3) ﴿8﴾ که پرنجي کوونکي ګس د پرنجي کولو نه پس " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " ووئيله او پهٔ بَله کمره کښې موجود ګس واوريدله نو پهٔ اوريدونکي باندې واجب دي چې جواب ورکړي، که جواب يـې ورنکړو نو ګنهګاريږي به- حضرت علامه مولانا مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: " د ديوال نه شاته که يو ګس پرنجے وکړو او هغهٔ " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه" ووئيله، نو اوريدونکے دې د دې جواب ورکړي"-

(در المحتار، 684/9) (بهارِ شريعت، 3/ 477، حصه: 16)

﴿9﴾ که غير مسلمه پهٔ پرنجي کولو " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " ووائي، نو پهٔ جواب کښې دې

" يَهۡدِيۡكَ الله " (يعني الله پاک دې تا ته هدايت وکړي) يا " يَهۡدِيۡكُمُ اللهُ وَيُصۡلِحُ بَالَكُم "
(الله پاک دې تا ته هدايت وکړي او ستا د معاملې اِصلاح دې وکړي-) ووئيلے شي-
(ترمذی، 339/4، حدیث: 2748 ماخوذاً۔ رد المحتار، 684/9)

﴾10﴿ که په بيتُ الخلا (Washroom) کښې پرنجے وکړے شي نو ژبې
له د حرکت ورکولو نه بغير په زړۀ کښې دې"اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " ووئيلے شي- لکه څنګه
چې په بهارِ شريعت کښې دي: د سلام يا د اذان جواب دې په ژبه باندې نۀ
ورکړے کيږي او که پرنجے وکړي نو په خُله دې " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " نۀ وائي بلکې په
زړۀ کښې دې ووائي- (بهارِ شريعت، 409/1 حصه:2)

﴾11﴿ په تلاوت کوونکي، د دِين په مطالعه کښې، په دُعا يا ذِکر وظيفو وغيره
کښې په مصروف ګس باندې د پرنجي د حمد جواب واجب نۀ دے لهذا هغۀ ته
اِختيار دے که جواب ورکوي او که نۀ ورکوي- دا داسې ده چې يو ګس په دې کارونو
کښې په يو کښې مصروفه وي او په دې کښې څوک هغۀ ته سلام وکړي نو په هغۀ
باندې جواب نۀ واجب کيږي- (دار الافتاء اہل سنت کا فتویٰ، نمبر: WAT 2311)

﴾12﴿ که په پرنجي سره اوښکې راووځي نو اودس نۀ ماتيږي- ﴾13﴿ د
پرنجي کوونکي جواب هُغه وخت دے چې کله هغۀ د پرنجي نۀ پس " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ "
ووائي او که هغۀ لا پرنجے کړے نۀ وي يا پرنجے وکړي خو لا يې " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ "يې
نۀ وي وئيلې نو جواب نۀ واجب کيږي، د دې سره سره د هغۀ د " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " وئيلو
نه پس په اوريدونکي باندې جواب واجب دے که د " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ " وئيلو نه
مخکښې " يَرۡحَمُكَ الله " ووائي نو جواب نۀ شو بلکې د "اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ "اوريدو نه پس به
جواب واجب وي- ﴾14﴿ د پرنجي جواب ورکول هُغه وخت واجب وي چې د
پرنجي سره سره د پرنجي کوونکي نه حمد (اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ) هم واوريدے شي، ځکه که

پرنجي کولو والا پهٔ ورو اواز ''اَلْحَمْدُلِلّٰه'' ووئيله او حاضرينو نهٔ وه اوريدلې نو جواب ورکول واجب نهٔ دي، البتّه علمائے کرام فرمائي چې کله دا معلومه نهٔ وي چې پرنجي کولو والا حمد بيان کړے دے که نهٔ نو بيا مشروط جواب ورکول پکار دي چې که تا حمد بيان کړے وي نو ''يَرْحَمُكَ الله'' - (دارالافتاءاہل سنت کافتویٰ)

پهٔ بهارِ شريعت کښې دي: د پرنجي جواب ورکول واجب دي هله چې پرنجي کولو والا ''اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' ووائي او د دې جواب هم فوراً ورکول او داسې ورکول چې هغهٔ يې واوري، واجب دي، يعنې که پهٔ زړهٔ کښې يې جواب ورکړو او هٔغه (پرنجي کولو والا) نهٔ وو اوريدلے نو واجب به نهٔ ادا کيږي-

(بهارِ شريعت 3/ 476، حصه: 16بِتسهيلٍ)

دا پهٔ ذِهن کښې ساتئ چې که مَحرَمَه زنانه پرنجے وکړي او '' اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' ووائي نو هغې ته به پهٔ جواب کښې ''يَرْحَمُكِ الله'' وئيلے شي، مثلاً پهٔ کور کښې مور جانې پرنجے وکړو، هغې '' اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' ووئيله او ځوي يې واوريدله نو ځوي به يې پهٔ جواب کښې وائي: ''يَرْحَمُكِ الله'' د کاف نه لاندې به زير ورکوي او که نارينه پرنجے وکړي او هغهٔ ''اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' وه وئيله نو پهٔ اوريدو به پهٔ جواب کښې ''يَرْحَمُكَ الله '' وئيلے کيږي پهٔ کاف باندې به زبر لولې-

## نا مَحرَمه که چرې پرنجے وکړي نو؟

پهٔ بهارِ شريعت، جلد: 3، صفحه: 477 باندې دي: (غير مَحرَمه) زنانه که چرې پرنجے وکړي که هغهٔ بوډۍ وي نو نارينه دې د هغې جواب ورکړي، او که ځوانه وي نو داسې جواب دې ورکړي چې هغهٔ يې نهٔ اوري، که نارينه پرنجے وکړو او زنانه ورله جواب ورکړو که ځوانه وي نو نارينه دې د هغې جواب پهٔ زړهٔ کښې ورکړي او که بوډۍ وي نو پهٔ تيز اواز جواب ورکولے شي-

# د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ كراچئ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net